سمسور ودان

۲۰۲۳/۰۸/۱۶

# غزل

دا چې سترګو کې مې منډې وهې لیکې
دغه ستا سوغات و ستا له تګه وروسته

څه به وکړې که مې نوم واخلي نړۍ ته
مشهور به شم له لږ څه خوړه وروسته

خپل قامت یې هم حیا له هجره نه کړه
غر زړه ولړزید لومړۍ خو شګه وروسته

دا یو داسي قام د خدای و، د خدای نه و
غیږدل یې اصیل زاد له سګه [1] وروسته

ویلې ځان راپسي مړ کړه خو ستا نه یم
بیا مې هم لیده له پرې پرې رګه وروسته

ته د خپل بادبان په څنګ کې غلي ناسته
ما لاس اچوه له تش تش ځګه وروسته

۲۰۲۳/۴/۱۹ کابل

۱ ـ سګ: دری/ فارسی لغت دی، معنا یې: (سپی)


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ